د افغانستان بانک

د پولي سیاست لوی امریت

د پولي سیاست میاشتنی راپور

## د پولي سیاست او مالي چارو د خارنې د شاخصونو تغیراتو ته لنډه کتنه

**زمری1399**

## لړليک


د افغانستان بانک ........ 1
1.پولي سکتور ........ 3
1) د پولي زيرمو او په گردښت کي د پيسو د ودې راپور:, ........ 3
1.2)خالصې نړيوالي شتمنی ........ 4
1.3) د بهرنيو اسعارو او د پانگه ايزو پانو ليلام ........ 4
1.4)د ټکټاني لگښتونه ........ 9
1.5) د تبادلي نرخ ........ 10
2.حقيقی سکتور ........ 12
عمومي پړسوب دکلنی محاسبي پر بنست ........ 12
دهستېانفلاسيون (اصلي انفلاسيون) ........ 16
۳. بهرنی سکتور ........ 18
3.1) د جاري حساب بيلانس: ........ 18
3.1.1) د توکو د حساب بيلانس: ........ 18
3.1.2) د خدماتو د حساب بيلانس: ........ 18
3.1.3)د لومړنيو عوايدو حساب: ........ 19
3.1.4) د منځنيو عوايدو حساب: ........ 19
3.2) د پانگيز حساب بيلانس ........ 19
3.3) د تادياتو د بيلانس مالي حساب: ........ 19
3.3.1) د مخامخ پانگوني حساب : ........ 20
3.3.2) په ارزښت لرونکو پانو کي پانگونه ( نامخامخ پانگوني): ........ 20
4. مالی سکتور ........ 22

## 1.پولي سکتور

### 1,1) د پولي زيرمو او په گردښت کې د پيسو د ود راپور:


د پولي سياست آمريت د پيسو غوښتنې اصلي او گټورولارو ، د دولت مالي پروگرامونو (عوايدو او لگښت) ، اقتصادي ودې لر ليد او په هيواد کې د قيمتونو د ټوليزې کچې له لارې د هېواد اقتصادي حالت ته په کتو د هېواد پيسو سياستونه طرح کوي .

د پولي زيرمو (RM) کره مبلغ د مالي کال ۱۳۹۹ (۲۰۲۰) په پيل کې 321628.98 مليونه افغانۍ ثبت شوی دی ، او د زمري مياشتې په پای کې کره مبلغ اندازه په ۳۲۰۶۰۹,۹۷مليون ډالره و چې د مالي کال له پيل څخه تر اوسه بيا ۰,۳۲ سلنه منفي وده څرگندوي .

سربيره پردې ، د افغانستان بانک وتوانېدو په برياليتوب سره په گردښت کې پيسې (CiC) اداره کړي. د روان مالي کال په پيل کې په گردښت کې ټولې پيسې ۲۵۹۳۴۹,۹۸مليونه افغانۍ وې او د زمري په مياشت کې بيا ۲۸۲۶۱۳,۹۰مليونه افغانۍ وې چې په حقيقي مقدار کې ۲۳۲۶۳,۹۲ ميلونه افغانۍ توپير څرگندوي .

چې له ټاکل شوي هدف څخه لوړ دی او د ۸,۹۷ سلنه وده ښيي.

لاندې جدول د مالي کال۱۳۹۹ (۲۰۲۰) په جريان کې RM او CIC ښيې





سرچينه: د بازار عمليات / د پولي سياست آمريت

## 1.2)خالصې نړیوالې شتمنۍ

خالصې نړېوالې شتمنۍ(NIR) راپولول، کوم چې د ملی اقتصاد د لوی اقتصاد شاخص په توګه پیژندل کیږي ، د هیواد په مالي سیستم کې یوه له ترټولو لویه لاسته راوړنه ده. د NIR راټولول پرته له شک څخه  د پولي سیاستونو غوره پلي کولو او د د لوی اقتصاد شاخصونو لکه د تبادلې نرخ ، انفلاسیون او تادیاتو بیلانس د تعادل د ثبات ساتلو باندې مخامخ اغیز لري .

د ۱۳۹۹مالي کال (۲۰۲۰) په پیل کې ، د افغانستان NIR کره اندازه ۷۹۱۹,۴۱ ملیونه ډالر ټاکل شوې وه مګر د NIR د بازار په نرخ حقیقي اندازه د زمري په پای کې ۸۳۱۰,۰۳  ملیون ډالرو ته رسیدله ، چې د  ۳۹۰,٦۲ملیونه ډالرزیاتوالی ښیي.

د NIR وده په لاندې جدول کې وړاندې کیږي:




سرچینه: دبازار عملیات /  د پولي سیاست آمریت


## 1.3) د بهرنیو اسعارو او د پانګه ایزو پانو لیلام

د نغدوالي  د کنټرول لپاره ، د ډالرو عرضه کول په اقتصاد کې د افغانۍ د تبادلې د نرخ ډیر بدلون راکموي ، د افغانستان بانک په اونۍ کې دري ځله د ډالرو لیلام  او یو ځل د پانګیزو پاڼو د لیلام له لارې خپله موخه له نژدې اداره کوي  چې دا دوه وسیلي دي او د ازاد بازار عملیاتو له لارې عملي کیږي . د تفصیل لپاره هر وسیله په لاندې توضیحي کیږي.

## د بهرنیو اسعارو لیلام

د ۱۳۹۹(۲۰۲۰) مالي کال له پیل راهیسې د چنګاښ تر پای پورې ، د افغانستان بانک د آزاد بازار د عملیاتو له لارې ټول ټال ۱،۳۴۴,۳۰ملیونه امریکایي ډالر لیلام کړي او له بازار څخه یې ۱۰۳,۲۱ملیارده افغانۍ راټولې کړي دي. د آزاد بازار په عملیاتو کې د اسعارو (په ځانګړي توګه د متحده ایالاتو ډالر) د ټول غوښتنې ۳۰,۳۴ سلنه پوره کړې.

لاندې جدول د تیرو ۱۲ کلونو په جریان کې د بهرني اسعارو غوښتنې او عرضه ښیي.





سرچینه: د بازار عملیات / د پولي سیاست آمریت

## د پانګه ایزو پاڼو لیلام

د افغانستان بانک په بازار کې د نغدوالي د کنټرول،د بانکوالۍ سکتور کې د اضافه نغدوالي مخنوی، د تضمینونو لپاره منځني بازارونه رامینځته کول، د تبادلې په نرخ کې د ثبات ساتلو ، د پولي سیاست وسایلو ډیرښت رامینځته کول ، او سوداګریز بانکونه هڅول څوخپلې تولې چارې په افغانیو ترسره کړي نو د افغانستان بانک په همدې موخه د پانګیزو پاڼو له لیلام څخه کار اخلي .

د ۱۳۹۹(۲۰۲۰) مالي کال له پیل څخه د زمري د میاشتې تر پایه پورې ، د پانګه ایز پاڼو نه ترلاسه شوې ونډه 36,29 ملیارده افغانیو ته رسیدلې او په عین حال کې د یاد شوي پاڼو ټولټال سود د دې میاشتې په پای کې 133,77 ملیونه افغانیو ته رسیدلی.

لاندې شکل د مالي کال ۱۳۹۹(۲۰۲۰) د زمري میاشتې تر پای پورې د 9 کلونو په جریان کې د پانګه ایز پاڼو نه ترلاسه شوې ونډه روښانه کوي.





سرچینه: د بازار عملیات / د پولي سیاست آمریت

## ۷ ورځنۍ پانګه ایزې پاڼې

د زمري میاشتې په پای کې د ۷ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو لیلام د ۰٫۶۲ سلنه منځنې سود سره ۱٫۵ ملیارده افغانیو ته رسیدلې.


نه ترلاسه شوې برخې د دې مودې لپاره ۱٫۵ ملیارده افغانۍ دي.




سرچینه: د بازار عملیات / د پولي سیاست آمریت

## ۲۸ورځنۍ پانګه ایزې پاڼې


د ارزول شوې مودې په جریان کې ، د زمري میاشتې په پای کې د ۲۸ ورځنۍ پانګه ایزې پاڼې لیلام په اوسط ډول د ۰٫۹۴ سلنه سود او۱٫۱ ملیارده افغانیوپه ارزښت وړاندې شوي دي اوټولټال نه ترلاسه شوي ونډه ۳٫۵ ملیارده افغانۍ ثبت شوې.




سرچینه: د بازار عملیات / پولي سیاست آمریت

## ۹۱ ورځنۍ پانګه ایزې پاڼې


د دې راپور ورکولو په جریان کې د ۹۱ ورځو لپاره د پاڼو لیلام ۰٫۵۵ملیارده افغانۍ شوی دی او د زمري اوسط ټکټانه ۱٫۴۷ سلنې وه او ټولټال نه ترلاسه شوي ونډه ۴٫۵۹ملیارده افغانیو ته رسېدلې.




سرچینه: د بازار عملیات / د پولي سیاست آمریت

## ۱۸۲ورځنی پانګه ایزې پاڼې


د دې راپور چمتوکولو د مودې په جریان کې د افغانستان بانک د ۱۸۲ ورځو لپاره د پاڼو لیلام د رمزي په میاشت کې ۰,۶۰ ملیارده او اوسط سود د ۱,۷۵ سلنې و او نه ترلاسه شوي ونډه یې ۴,۴۳ ملیارده افغانیو ته رسېدلې.




سرچینه: د بازار عملیات / د پولي سیاست آمریت

### ۳۶۴ ورځنۍ پانگه ایزې پاڼې


د دې راپور ورکولو په جریان کې د افغانستان بانک د ۳٦٤ ورځو لپاره د پاڼو لیلام د زمري میاشتې په پای کې ۰٫۵۰ ملیارده افغانۍ و ې چې منځنې ډول د ۲٫۹۸ سلنه سود او او نه ترلاسه شوې ونډه یې ۲۲٫۲۷ ملیارده افغانیو ته رسېدلې.




سرچینه: د بازار عملیات / د پولي سیاست آمریت

### 1.4)د ټکټاني لګښتونه


د افغانستان بانک د تیرو ۱۳ کلونو په جریان کې د مالي کال ۱۳۹۹ (۲۰۲۰) د زمري میاشتې پورې د پانکه ایز پاڼو لپاره ټکټاني تادیه کړې دي چې ارقام یې په لاندې ډول ښودل شوي دي.



## 1.5) د تبادلې نرخ

مرکزي بانک په بازار کې د اسعارو نرخ نه په نښه کوي. په هرصورت ، په نورو لوی اقتصادي شاخصونو د دې د پام وړ اغیزو په پام کې نیولو سره ، د افغانستان بانک د تبادلې نرخ چلند له نږدې څارې ترڅو د دې شدید بدلونونو مخه ونیسي. د معلوماتو ته په کتو ، د افغانیو تبادلې نرخ د نړۍ د مهمو اسعارو په وړاندې یو څه بدلونونه ثبت کړي دي.


د۱۳۹۹لمریز مالي کال له پیل راهیسې افغانۍ د ۱،٦۴ سلنه ارزښت له مخې لوړوالی ښودلی دی ، او په منځنی ډول ډالر په ٧٦،٧٧ افغانۍ تبادله شوې او د جوزا په پای کې په ٧٧،١۴ تبادله شوې.



| | 1398 مالی کال | | | | | | 1399 مالی کال | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | کب | غبرګولی | چنګاښ | زمری | وږی | لیندۍ | کب | غبرګولی | چنګاښ | زمری |
| د پولي زیرمو تاکلی هدف(٪) | 12 | | | | | | 12 | | | |
| د پولی زیرمو حقیقي وده(٪) | 5.60- | -4.5 | 3.70- | 1.14- | 1.19 | 12 | 8.00- | 0.42 | 1.43- | 0.32- |
| د پولی زیرمو حقیقي وده(میلون افغانی) | 255,627.49 | 259,654.32 | 277,425.51 | 284,915.05 | 275,042.98 | 304,625.71 | 295,224.52 | 322978.27 | 317032.32 | 320609.97 |
| د پولي زیرمو تاکلي موخه ( میلون افغانی) | 280,267.14 | 305,491.17 | 308,341.50 | 311,381.84 | 314,327.17 | 322,878.14 | 331,039.94 | 340873.85 | 344151.83 | 347324.06 |
| ګردښت کې پیسو حقیقی وده ( میلون افغانی) | 222,147.20 | 231,598.67 | 233,781.48 | 243,568.12 | 244,489.52 | 259,350.77 | 259,302.12 | 279,989.89 | 277,966.61 | 282,613.90 |
| د ګردښت پیسو تاکلي موخه ( میلون افغانی) | 233,785.34 | 241,897.91 | 244,154.89 | 246,562.34 | 248,894.55 | 255,665.48 | 266,938.63 | 274,868.34 | 277,511.58 | 280,069.56 |
| په نړیوالو زیرمو کې حقیقي وده (ملیونونه ډالر) | 7,702.51 | 7,691.22 | 7,830.97 | 8,034.34 | 7,868.70 | 7,873.60 | 7,711.85 | 8,128.78 | 8,268.12 | 8,310.03 |
| په نړیوالو زیرمو کې تاکلي موخه (ملیونونه ډالر) | 7,684.13 | 7,708.58 | 7,708.58 | 7,821.50 | 7,708.58 | 7,708.58 | 7,846.07 | 7,919.41 | 7,919.41 | 7,919.41 |
| د بانکه ایز پانړو ناترلاسه شوې برخه | 26,665 | 27,020 | 28,665 | 25,350 | 23,920 | 24,905.00 | 30,455 | 34,495 | 39,340 | 35,160 |
| اجباري زېرمې (لازمي زېرمې) ملیونونه افغانی | 5,768.54 | 10,923.40 | 5,672.74 | 5,729.57 | 2,657.34 | 5,734.43 | 5,928.75 | 6,271.67 | 7,084.69 | 7,125.02 |

**د پولي شاخصونو جدول**

## 2.حقیقی سکتور




### عمومي پړسوب دکلنی محاسبې پر بنسټ

د عمومي پړسوب کچه د 1399لمریز لیږدیزکال دکلني بدلونونو پر بنسټ دغبرگولی په میاشت کې زیاتوالی کړی دی. دمصرفي توکو ټولیز پړسوب له 6.26 سلنې تر 6.36 سلنې پورې زیاتوالی څرگندوي. دا زیاتوالی د غیر خوراکي توکو دبیو دزیاتوالی څخه یې سرچینه اخیستې ده، چې په ټولیز شاخص یې اغیز ه کړی دی . دا په داسې حال کی دی چې د خوراکی توکی بیه کموالی موندلی دې.

| په ملي کچه د مصرفي توکو بدلونونه | | | | |
|---|---|---|---|---|
| شاخصونه | کلنی بدلون | | میاشتنی بدلون | |
| | غویی1399 | غبرگولی1399 | غویی1399 | غبرگولی1399 |
| عمومی پړسوب | 6.26 | 6.36 | -1.15 | -0.81 |
| خوراکي توکي | 12.92 | 12.88 | -1.74 | -1.87 |
| غیرې خوراکي توکي | -0.24 | 0.13 | -0.49 | 0.35 |

**سرچینه : د احصائیه او معلوماتو ملي اداره / سیاست پولي لوی آمریت**

## دخوراکي توکوۍشاخص دکلنۍ بدلون پر بنسټ د ټیټې بیې ښکارندوی دی .

د احصائي او معلو ماتو ملي اداري د وروستیو ارقامو د لاس ته راوړلو پر اساس دکلنې محاسبې پر بنسټ د **خوراکي توکو**بیه له 12.92 سلنې نه 12.88سلنې پورې کمه شوي ده.د دې کموالی اصلي لامل د ( شیدی،سابه، خواږه ، او غیرې الکولي څښاک ) دبیو کموالی دی.

د کلني محاسبې پر بنسټ **دلبنیات :(شیدي،پنیراو دچرگانو دهگی ۍ )** بیه چې دمصرفي توکو عمومي شاخص 4.7سلنه جوړوي د کلني محاسبې پر بنسټ له 4.04 سلنې تر 3.58 سلنې پورې د ځیږنې په موده کې بدلون موندلی دی .

سربیره پر دې د میاشتیني محاسبې پر بنسټ د دې برخې شاخص له 3.12 سلنې تر 0.86- سلنې پورې کموالی کړی دی.

پخوا په هیواد کی د شیدی، پنیر او هگیو نرخ د قرنطین اود عرضې د کموالي له امله زیاتوالي موندلي وو،خو کله چی په هیواد کی د محددیتونو لری کول او د غرضې زیاتوالی له وجي نه ددی برخی دشاخص بیه په نورماله توگه راکم شو.

**خواږه** چې په عمومي شاخص کې 2.7 سلنه ونډه لري ،له 3.66 سلنېتر.3.59سلنې پورې غبرگولی په میاشت کې کموالی کړی دی. او د میاشتیني محاسبې پر اساس ددې شاخص بیه له 0.65سلنې تر 1.15سلنې پورې بدلون موندلی ده.

ددې شاخص د کمیدو اصلی لاملونه د شاتو د مچیو روزنه او د شاتو تولید په ورستیو کلونو کی د پام وړده کړې ، او په هیواد کې د شاتو تولید تر 50 سلنی پوری لوړ شوی. او همدا رنگه د کرونا ویروس ناوړین په خاطر د بوری مصرف کمزوری شوی دی.

| دخوراكي توكو شاخص بدلون په ټوليزه كچه | | | | |
|---|---|---|---|---|
| شاخصونه | کلنی بدلون | | میاشیتنی بدلون | |
| | غویی | غبرگولی | غویی | غبرگولی |
| **خوراكي توكو بدلون** | **12.92** | **12.88** | -1.74 | -1.87 |
| *غلې دانې* | 14.76 | 15.78 | 1.22 | 1.17 |
| *غوښه* | 10.70 | 12.49 | 2.22 | 1.67 |
| *شیدې پنیر او هگې* | 4.04 | 3.58 | 3.12 | -0.86 |
| *غوړي* | 19.15 | 21.62 | 5.86 | 2.30 |
| *وچه او تازه میوه* | 10.35 | 10.88 | 1.05 | -3.76 |
| *سابه* | 23.02 | 16.15 | -17.96 | 15.03 |
| *خواږه* | 3.66 | 3.59 | 0.65 | 1.15 |
| *مصاله* | 9.59 | 11.57 | -10.22 | -4.80 |
| *غیرې الکولي څښاک* | 4.13 | 4.08 | 1.15 | 0.58 |

**سرچینه : د احصایې او معلوماتو ملي اداره / سیاست پولی آمریت**

## غیرې خوراكي توكی دبیې پرسوب دغبرگولی په میاشت کې بدلون کړی دی.

**غیرې خوراكي**توکو شاخص چې د عمومي شاخص 52.2سلنه جوړوي د۱۳۹۹لمریز کال د غبرگولی میاشت کې بدلون راغلی دی او 0.13سلنې ته رسیدلی دی حال دا چې دا رقم په تیره میاشت کې0.24-سلنه سنجش شوی وو.

او د دې زیاتوالی لامل(کور ، درملنه، اړیکې ، اطلاعات او معلومات ،او متفرقه **)**دبیې زیاتیدل ګڼل کېږي.

**روغتیا** شاخص چې په عمومي تورم کې 6.2 سلنه ونډه لري، دکلنیمحاسبې پر بنسټ د روان کال دغبرګولی په میاشت کې تر 8.86 سلنې پورې زیاته شوی ده، حال دا چې دا رقم په تیره میاشت کې4.36 سلنه ثبت شوې وه.له بلې خوا د میاشتینی محاسبې پر بنسټ له 0.47 سلنې تر 4.60 سلنې پورې زیاتوالی ښکاره کوي.

- په افغانستان کی د کرونا وبا خپریدل ددی لامل شوی دی چی په هیواد کی د درملو نرخ په بی ساري توګه لوړ شي . اود کرونا وایروس د درملنې په خاطر دیو شمیر درمل کموالی په بازار کی ددی لامل ګر ځیدلی دی چی ددی برخی شاخص تر اغیزی لاندی ونیسي.

د**مخابراتو** شاخص په عمومي شاخص کې 1.7 سلنه ونډه لري د کلني محاسبې پر اساس د مخابراتو بیه تر2.40-سلنې پورې زیاته شوی ده . ، حال دا چې دا رقم په تیره میاشت کې هم4.22-سلنه سنجش شوی وو. او همدا راز د میاشتینی محاسبې پر اساس د دې شاخص بیه له 0.32سلنې تر 0.20- سلنې پورې کموالی کړی دی.

د تعلیمي او تحصیلي مرکزونو ترلو سره د آنلاین زده کړې لپاره دټبلیتونو ،لپتاپونو او د مخابراتی وسیلو پیرود لپاره غوښتنی زیاتیدل ددی لامل ګرځیدلی چی ددی برخی شاخص بیه لوړه شې

او همدا رنګه **اطلاعات او فرهنګ** چې 1.1 سلنه په عمومي شاخص کې ونډه لري ،ددې ښکارندوی دي چې په عمومي شاخص باندې ډیر لږ اغیزه کړی.او د دې شاخص بیه د کلني محاسبې پر اساس له 1.77سلنې نه تر 3.15 سلنې پورې زیاتوالی موندلی دی، او د میاشتیني محاسبې پر بنسټ له 0.90 سلنې 0.70 سلنې پوری کموالی ښکاره کوي.

| په تېولیزه کچه د غیرې خوراکي توکو د شاخص بدلون | | | | |
|---|---|---|---|---|
| شاخصونه | کلنی بدلون | | میاشتینی بدلون | |
| | غوبی | غبرگولی | غوبی | غبرگولی |
| **غیرې خوراکي توکو شاخص** | **-0.24** | **0.13** | **-0.49** | **0.35** |
| تنباکو | 1.12 | 1.40 | 0.39 | 0.29 |
| جامې | 10.08 | 7.54 | 3.34 | -1.59 |
| کور | -4.38 | -4.02 | -2.44 | 0.16 |
| *دکور لوازم* | 1.39 | 0.78 | 1.68 | -0.60 |
| *درملنه* | 4.36 | 8.86 | 0.47 | 4.60 |
| *ترانسپورت* | -10.14 | -10.44 | -6.37 | -0.12 |
| *اړیکې* | -4.22 | -2.40 | 0.32 | -0.20 |
| *اطلاعات ا و فرهنگ* | 1.77 | 3.15 | 0.90 | 0.70 |
| *ښوونه او روزنه* | 1.24 | 0.83 | -0.01 | 0.07 |
| *رستورانت ا و هوتل* | 1.76 | 0.97 | 0.29 | 0.09 |
| متفرقه | 12.40 | 14.17 | 0.71 | 1.14 |

**سرچینه : د احصایې او معلوماتو ملی اداره / سیاست پولی آمریت .**


## دهستېانفلاسیون (اصلي  انفلاسیون)

په هیواد کې د هستیي انفلاسیون کچه د د افغانستان بانک د پالیسو اغیزمنتیا دبیو  عمومي کچې باندې د کنترول ښکارندویي کوي. د دې معیار پربنسټ، د انفلاسیون د کچه  بدلونونه چې غیر عادي عوامل لري او د کنترول  هم بهر دي، په شاخص کې په پام کېنه نیول کېږي د انفلاسیون کچه زیاته برخه د فصلي بدلونونو او کله ناکله د غیرې عادي پیښو له امله اغیزمن کېږي.

استفاده کېږی . په دغه کړنلاره کې هغه اجزاوی چې په غیر عادی توګه بیه یې بدلون مومي په شاخص کې ترنظر لاندې نه نیول کېږي تر څو پوري په عمومي شاخص باندې یې د اغیزې نه مخنیوی وشي.

د هستې انفلاسیون د معلومولو له معیارونو څخه یو یې هم د اوسط لنډیز (Trimmed Mean%30 ) دی. دغه معیار یو مشخصه برخه په نظر کې نیسي او د ساده لنډیز شاخص په اساس وروسته له نظر لاندې اجزاوې د حذفولو نه محاسبه کېږي. ددغېمعیار په اساس تورم د 1399لمریزکال دغویی میاشت کې له 5.47سلنې تر 5.99 سلنې پورې دغبرګولې په میاشت کې زیاته شوی دی.

بل معیار د هستې تورم عبارت دی له **لګښتي توکو شاخص په غیر د ډوډی ،غوړي او ترانسپورت** نه دی. چې تورم ددغې معیار په اساس 4.61 سلنې ته د غبرګولی په میاشت کې رسیدلی دی حال دا چې دا رقم په تیره میاشت کې4.82سلنه سنجش شوی وو. د دې معیار له مخې د میاشتیني محاسبې پر بسټ له1.79-سلنې تر1.45-سلنې پورې زیا توالی ښکاره کوي.




**په ملی کچه د هستی تورم بدلون**

| شاخصونه | غویی | غبرګولی |
|---|---|---|
| | کلنی بدلون پر بنسټ | |
| **خلاصه شوی تورم** (لنډیز) **( %30Trimmed Mean)** | 5.47 | 5.99 |
| **دمصرفي توکو شاخص په غیري د ډوډی ،غوړی او ترانسپورت** | 4.82 | 4.61 |

**سرچینه : د احصایې او معلوماتو ملي اداره / سیاست پولی آمریت**

## ۳. بهرنی سکتور

### 3.1) د جاري حساب بیلانس:

د راټول شو یو ارقامو له مخې د هیواد د تادیاتو د بیلانس د جاري حساب کسر د ۱۳۹۹ لمریز لیږدیز کال په دویمه څلوریزه کې د تیر لمریز لیږدیز کال (1398) ورته څلوریزه کې کم شوی دی . د جاري حساب کسر په ۱۳۹۹ لمریز لیږدیز کال په دویمه څلوریزه کې تقریباً ۷۷۸,۳۰ میلیون ډالره ثبت شوی و. خو د ۱۳۹۹ لمریز لیږدیز کال په دویمه څلوریزه کې ۴۱۲,۹۹ میلیونه ډالرو ته رسیږي چې ۴۷ سلنه کمښت څرګندوي ، اساسي سبب یې د وارداتو او صادرات کمښت او په همدې ډول له افغان دولت سره د نړیوالو مرستو د کمښت له کبله دی .

### 3.1.1) د توکو د حساب بیلانس:

د ۱۳۹۹ لمریز لیږدیز کال په دویمه څلوریزه کې د تیر لمریز لیږدیز کال د دویمې څلوریزې په پرتله د توکو د صادراتو په تولیز ارزښت کې ۷۸ سلنه کمښت څرګندوي . په ۱۳۹۸ لمریز لیږدیز کال کې ۱۴۳,۲۹ میلیون ډالره ثبت شوي ول او د روان لمریز لیږدی کال په دویمه څلوریزه کې ۳۲ میلونه ډالره ثبت شوي دي .

په همدې ډول د ۱۳۹۹ لمریز لیږدیز کال په دویمه څلوریزه کې د وارداتو په ارزښت کې ۳۳ سلنه کموالی راغلی، د تیر کال په دویمه څلوریزه کې وارداتو ارزښت۱۴٦٦,۳۴ ډالره ثبت شوی و ،خو د روان لمریز لیږدیز کال په دویمه څلوریزه کې ۹۸۴,٦۱ میلونه ډالره ثبت شوي دي .

**یادابښت:** د کوید ۱۹ ناروغې له کبله ،د سوداګریزو توکو په وړاندې د بندرونو او ټرانزیټي لارو تړل او په بازارونو کې ې د عرضې ناڅاپې کموالی د دې سبب شوه چې د روان لمریز لیږدیز کال په دویمه څلوریزه کې صادارتي او وارداتی اقلامو کې کمښت راشي.

### 3.1.2) د خدماتو د حساب بیلانس:

د روان لمریز لیږدیز کال په دویمه څلوریزه کې د خدماتو د حساب بیلانس کې ۲۵ سلنه کمښت رامینځته شوی دی ،د ۱۳۹۸ لمریز لیږدیز کال په دویمه څلوریزه کې ۱۰۴,۱۷ میلیون دالر ثبت شوي ول خو د روان لمریز لیږدیز کال په دویمه څلوریزه کې بیا ۷۸,۲۰ ډالره ثبت شوي دي .

**یادابښت** : د کویډ 19 ناوروغې له کبله له هېواد څخه بهر او داخل کې د دې ناروغې د مخنیوي په موخه محدودیونه وضعه شوي ول چې له همدې کبله د خدماتو بیلاسن کې کمښت رامینځته شوی دی . او د خدماتو د بیلاسن کسر هم کم شوی دی .

### 3.1.3) د لومړنيو عوایدو حساب:

د هېواد خالص لومړني عواید د ۱۳۹۹ لمریز لیږدیز کال په دویمه څلوریزه کې د تیر کال ۱۳۹۸ لمریز لیږدیز کال د دویمې څلوریزې په پرتله ۷۱ سلنه کموالی څرګندوی چې د تیر کال په دویمه څلوریزه کې ۱۰۱ میلونه ډالره ثبت شوي ول خو د روان لمریز لیږدیز کال په دویمه څلوریزه کې بیا ۳۰ میلونه ډالره ثبت شوي دي .

### 3.1.4) د منځنیو عوایدو حساب:

منځنې عواید په ټوله کې (بلاعوضه مرستې او د کارګرو پیسې ) د روان لمریز لیږدیز کال په دویمه څلوریزه کې د تیر کال د دویمې څلوریزې په پرتله ۷ سلنه ډیرښت څرګندوي چې تیر کال په دویمه څلوریزه کې ۵۴۸ میلیونه ډالره او روان لمریز لیږدیز کال په دویمه څلوریزه کې ۵۸۸ میلیونه ډالره ثبت شوي دي .

یادابښت : په منځنیو عوایدو کې دیربښت سبب افغان دولت سره د نړیوالو بلاعوضو مرستو د ډیربښت له کبله دی .

**جاري لیږدونې (بلاعوضه مرستې):**

د روان لمریز لیږدیز کال په دویمه څلوریزه کې په خالصو نړیوالو مرستو کې ۱۷ سلنه ډیربښت رامینځته شوی دی ،چې په تیر لمریز لیږدیز کال ۴۳۳ میلونه ډالره ثبت شوي ول او په روان لمریز لیږدیز کال په دویمه څلوریزه کې ۵۰۵ میلیونه ډالره ثبت شوي دي .

**د خصوصي اشخاصو د پیسو لیږد :**

هېواد ته د خصوصي افرادو د پیسو په لیږد کې ۲٦ سلنه کموالی راغلی چې تیر کال په دویمه څلوریز کې ۱۴۵,۳٦ میلونه ډالره ثبت شوي وو حال دا چې په روان لمریز لیږدیز کال په دویمه څلوریزه کې ۱۰۸ میلیونه ډالرو ته راکم شوي دي .

### 3.2) د پانګیز حساب بیلانس:

د تادیاتو بیلانس په پانګیز حساب کې د روان لمریز لیږدیز کال په دویمه څلوریزه کې د تیر لمریز لیږدیز کال په پرتله ۵۹ سلنه کموالی راغلی ، چې د تیر لمریز لیږدیز کال په دویمه څلوریزه کې ټول مقدار ۲۴۱,۵۷ ډالره ثبت شوی او په روان لمریز لیږدیز کال په دویمه څلوریزه کې بیا دا ۹۹,۹۲میلیون دالر ه ثبت شوي دي .

### 3.3) د تادیاتو د بیلانس مالي حساب:

د تادیاتو بیلانس مالي حساب له مخامخ پانګونې حساب،په ارزښت لرونکو پاڼو کې پانګونې حساب ،متفرقه پانګونو او اسعاري شتمنیو څخه جوړ دی .

### 3.3.1) د مخامخ پانګونې حساب :

په مخاخ پانګونه کې د تیر کال د دویمې څلوریزې ۵۴ سلنه کموالی څرګندوي چې د تیر کال په دویمه څلوریزه کې ۵,٦۹میلونه ډالره ثبت شوي وه حال دا چې په روان لمریز لیږدیز کال په دویمه څلوریزه کې ۲,۵۹ میلیون دالروه ثبت شوی ده .

په همدې ډول مخامخ پانګونې مقدار د هېواد په داخل کې ۷۵ سلنه کموالی څرګندوي چې ۱۱,۹۷ ډالرو څخه یې ۳,۰۲ میلیون دالرو ته رانښکته شوی ده .

### 3.3.2) په ارزښت لرونکو پانو کې پانګونه ( نامخامخ پانګونې):

په ارزښت لرونکو وي پانو کی پانګونې له هیواد نه بهر له ۱۵,۴۲ میلیون دالرو څخه چې د تیر کال په دویمه څلوریزه کې ثبت شوې وه ، د روان کال په دویمه څلوریزه کې ۴۱,۱۹ میلیونه دالرو ته لوړه شوې ده .

**جدول.۱ : د افغانستان د تادیاتو بیلانس په (میلیون امریکایي ډالرو)**


| اقلام/وخت | لومړی څلوریزه ۹۸ | دویمه څلوریزه ۹۸ | دریمه څلوریزه ۹۸ | څلورمه څلوریزه ۹۸ | لومړی څلوریزه ۹۹ | دویمه څلوریزه ۹۹ | په سلو کې تغیر |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| **جاری حساب** | **-۱۲۷٦,۹۱** | **-۷۷۸,۲۹** | **-۱۰۲۸,۳۸** | **-۷۱۴,۸۸** | **-۹۸۰,۹۵** | **-۴۱۳.** | -۰,۴۷ |
| ډبټ | ۸۰۷,۱۴ | ۱۰۱۳,۸۷ | ۸۵۱,٦۴ | ۱۲۷۳,۷۲ | ۸۰۱,۸۲ | ۸۴۲,۳۱ | -۰,۱۷ |
| کریډټ | ۲۰۸۴,۰۵ | ۱۷۹۲,۱٦ | ۱۸۸۰,۰۲ | ۱۹۸۸,٦ | ۱۷۸۲,۷۷ | ۱۲۵۵,۳۱ | -۰,۳ |
| **د توکو او خدماتو حساب** | **-۱٦۲۰,۴۷** | **-۱۴۲۷,۲۲** | **-۱۴۳۸,۵** | **-۱۳۷۵,۱٦** | **-۱۲۷۴,۳۹** | **-۱۰۳۰,۸۱** | -۰,۲۸ |
| ډبټ | ۳۷۰,۵ | ۲۸۳,۹ | ۳۴۴,٦۴ | ۵۱۰,۲۱ | ۳۹٦,۳۳ | ۱۴۱,۲۲ | -۰,۵ |
| کریډټ | ۱۹۹۰,۹۷ | ۱۷۱۱,۱۲ | ۱۷۸۳,۱۴ | ۱۸۸۵,۳۷ | ۱٦۷۰,۷۲ | ۱۱۷۲,۰۳ | -۰,۳۲ |
| **د توکو حساب** | **-۱۴۵۸,۵۹** | **-۱۳۲۳,۰۵** | **-۱۲۵۲,۹** | **-۱۲۵۹,٦۳** | **-۱۱۸۵,۴۳** | **-۹۵۲,٦۱** | -۰,۲۸ |
| ډبټ | ۱۸۲,۵۷ | ۱۴۳,۲۹ | ۲۰۸,۷۷ | ۳۲۹,۲۱ | ۲۰۳,٦۴ | ۳۲. | -۰,۷۸ |
| کریډټ | ۱٦۴۱,۱٦ | ۱۴٦٦,۳۴ | ۱۴٦۱,٦۷ | ۱۵۸۸,۸۴ | ۱۳۸۹,۰۷ | ۹۸۴,٦۱ | -۰,۳۳ |
| **د خدماتو حساب** | **-۱٦۱,۸۸** | **-۱۰۴,۱۷** | **-۱۸۵,٦** | **-۱۱۵,۵۳** | **-۸۸,۹٦** | **-۷۸,۲** | -۰,۲۵ |
| ډبټ | ۱۸۷,۹۳ | ۱۴۰,٦۱ | ۱۳۵,۸۷ | ۱۸۱. | ۱۹۲,٦۹ | ۱۰۹,۲۲ | -۰,۲۲ |
| کریډټ | ۳۴۹,۸۱ | ۲۴۴,۷۸ | ۳۲۱,۴۷ | ۲۹٦,۵۳ | ۲۸۱,٦۵ | ۱۸۷,۴۲ | -۰,۲۳ |
| **لومړنیو عوایدو حساب** | **۷۵,۹** | **۱۰۱,۰۹** | **٦۸,۸۴** | **٦۰,۸۵** | **٦۲,۵٦** | **۲۹,۷۵** | -۰,۷۱ |
| ډبټ | ۹۳,۵٦ | ۱۱۱,۹۸ | ۷۵,۷۹ | ۷۱,۲۵ | ۷۴,۳٦ | ۴۱,٦۷ | -۰,٦۳ |
| کریډټ | ۱۷,٦٦ | ۱۰,۸۹ | ٦,۹۵ | ۱۰,۴ | ۱۱,۸ | ۱۱,۹۲ | ۰,۰۹ |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| **د منځنيو عوايدو حساب** | **۲۶۷,۶۶** | **۵۴۷,۸۴** | **۳۴۱,۲۸** | **۵۹۹,۴۳** | **۲۳۰,۸۸** | **۵۸۸,۰۶** | ۰,۰۷ |
| ډبټ | ۳۴۳,۰۸ | ۶۱۷,۹۹ | ۴۳۱,۲۱ | ۶۹۲,۲۶ | ۳۳۱,۱۳ | ۶۵۹,۴۲ | ۰,۰۷ |
| کريډټ | ۷۵,۴۲ | ۷۰,۱۵ | ۸۹,۹۳ | ۹۲,۸۳ | ۱۰۰,۲۵ | ۷۱,۳۶ | ۰,۰۲ |
| **جاري ليږدوني (رواني مرستې)** | **۱۶۷,۴** | **۴۳۲,۹۱** | **۲۳۳,۱** | **۴۹۷,۷** | **۱۶۷,۷** | **۵۰۴,۷** | ۰,۱۷ |
| ډبټ | ۱۶۷,۴ | ۴۳۲,۹۱ | ۲۳۳,۱ | ۴۹۷,۷ | ۱۶۷,۷ | ۵۰۴,۷ | ۰,۱۷ |
| کريډټ | ۰. | ۰. | ۰. | ۰. | ۰. | ۰. | |
| **خصوصی ليږدوني** | **۱۴۱,۸** | **۱۴۵,۳۶** | **۱۴۲,۵۱** | **۱۳۹,۸۷** | **۹۵,۸۹** | **۱۰۷,۷۱** | -۰,۲۶ |
| ډبټ | ۱۷۵,۶۸ | ۱۸۵,۰۸ | ۱۹۸,۰۸ | ۱۹۴,۵۱ | ۱۶۳,۴۷ | ۱۵۴,۷۵ | -۰,۱۶ |
| کريډټ | ۳۳,۸۸ | ۳۹,۷۲ | ۵۵,۵۷ | ۵۴,۶۴ | ۶۷,۵۸ | ۴۷,۰۴ | ۰,۱۸ |
| **پانگيز حساب** | **۵۶,۱۳** | **۲۴۱,۵۷** | **۳۹۱,۵۷** | **۵۰۴,۶۸** | **۴۰,۴۹** | **۹۹,۹۲** | -۰,۵۹ |
| ډبټ | ۵۶,۱۳ | ۲۴۱,۵۷ | ۳۹۱,۵۷ | ۵۰۴,۶۸ | ۴۰,۴۹ | ۹۹,۹۲ | -۰,۵۹ |
| کريډټ | ۰. | ۰. | ۰. | ۰. | ۰. | ۰. | |
| **پانگيزي ليږدوني** | **۵۶,۱۳** | **۲۴۱,۵۷** | **۳۹۱,۵۷** | **۵۰۴,۶۸** | **۴۰,۴۹** | **۹۹,۹۲** | -۰,۵۹ |
| ډبټ | ۵۶,۱۳ | ۲۴۱,۵۷ | ۳۹۱,۵۷ | ۵۰۴,۶۸ | ۴۰,۴۹ | ۹۹,۹۲ | -۰,۵۹ |
| کريډټ | ۰. | ۰. | ۰. | ۰. | ۰. | ۰. | |
| **مالي حساب** | **-۳۷,۸** | **۲۷,۹** | **۵۹,۰** | **۱۰,۹** | **-۱۴۷,۷** | **۲۸۰,۱** | ۹,۰۴ |
| **مخامخ پانگونه** | **۱,۷۱** | **-۶,۲۸** | **۹,۰۴** | **-۱,۵۵** | **۲,۷۵** | **-۰,۴۳** | -۰,۹۳ |
| له هېواد څخه بهر | ۱۰,۵۲ | ۵,۶۹ | ۴,۸۶ | ۵,۲۶ | ۵,۹۴ | ۲,۵۹ | -۰,۵۴ |
| د هېواد په داخل کې | ۸,۸۱ | ۱۱,۹۷ | -۴,۱۸ | ۶,۸۱ | ۳,۱۹ | ۳,۰۲ | -۰,۷۵ |
| **نامخامخ پانگونې** | **-۱۶,۴۶** | **۱۵,۴۲** | **-۳۳,۷۴** | **۲۰,۱۶** | **-۱۸,۲** | **۴۱,۱۹** | ۱,۶۷ |
| له هېواد څخه بهر | -۱۶,۴۶ | ۱۵,۴۲ | -۳۳,۷۴ | ۲۰,۱۶ | -۱۸,۲ | ۴۱,۱۹ | ۱,۶۷ |
| د هېواد په داخل کې | ۰. | ۰. | ۰. | ۰. | ۰. | ۰. | |
| **متفرقه پانگونې** | **-۷۰,۸۸** | **-۹,۴۲** | **-۷۳.** | **۱۲۴,۲۶** | **-۱۶۵,۶۸** | **-۳۵۶,۹۲** | ۳۶,۸۹ |
| له هېواد څخه بهر | -۸۵,۴۶ | -۲۳,۱۳ | -۱۷,۸۶ | ۸۹,۲۴ | -۱۸۱,۳۵ | -۱۴۳,۱۳ | ۵,۱۹ |
| د هېواد په داخل کې | -۱۴,۵۸ | -۱۳,۷۱ | ۵۵,۱۴ | -۳۵,۰۲ | -۱۵,۶۷ | ۲۱۳,۷۹ | -۱۶,۵۹ |
| **زيرمه شوی شتمنی** | **۴۷,۸۱** | **۲۸,۱۳** | **۱۵۶,۶۶** | **-۱۳۱,۹۴** | **-۱۰۹,۶۷** | **۵۹۶,۲۲** | ۲۰,۲ |
| **تيروتني او ناثبت شوي معاملات** | **۱۱۸۳** | **۵۶۵** | **۶۹۶** | **۲۲۱** | **۷۹۳** | **۵۹۳** | ۰,۰۵ |

## 4. مالی سکتور

د مالي پالیسی اصلي موخه د عایداتو په راټولولو کې د دوامداره زیاتوالي راوړل دي،څو په تدریجي توګه، عادي او پرمختیایي لګښتونه چې له بهرنیو مرستو له لارې تمویلیږي،د بودجې تخصیص د افغانستان له ملي پرمختیایي ستراتیژۍ سره مطابقت پیدا کړي . سربیره پر دې، نورې موخې د عامه لګښتونو مدیریت ښه والی، د مالي پالیسي اصلاح کول، د مالی پالیسیو رامینځته کول، د شرکتونو، ګمرکاتو او د مالیې آغیزمنتوب  او اداره کول دي.

د 1399 لیږدیزمالي کال په پیل کې ټخه ټوله ملي بودجه  428.38 میلیارده افغانۍوه خو د تیر مالي کال بیا(1398)لیږدیز399.42 میلیارده افغانۍوه،  چې 28.96 میلیارده افغانۍ او یا د ٪7.25 ډیربښت ښرګندوي  . د1399 لیږدیز مالي کال عادي یا عملیاتي بودجه 289.10 میلیارده افغانۍ او پراختیایي بودجه بیا 139.28 میلیارده افغانۍ اټکل شوې ده .





سرچینه: د مالیې وزارت/د پولی سیاست د آمریت محاسبه

د نړۍ نورو پرمختللي او پرمختللي اقتصادونو سره یوځای ، افغانستان په دوامداره توګه د بودیجې کسر سره مخ دی پدې معنی چې ټول اصلي لګښتونه د کورني عاید ټخه ډیر دي مګر د کوویډ - 19 پراخه ناروغۍ له امله د کسر اندازه خورا شدت موندلې ، په هرصورت د حکومت د پالیسی بدلونونو پایله د روان مالي کال بودیجه بیاکتنه کوي.

نړیوال بانک پدې وروستیو کې خبرداری ورکړ چې سویلي آسیا د کورونا ویروس ناروغۍ له امله په 40 کلونو کې د هغې خراب

اقتصادي فعالیت سره مخ دی. د افغانستان حکومت د عامې روغتیا وزارت ته د دې ناروغۍ د مخنیوي لپاره شاوخوا 25 ملیونه ډالر ځانګړي کړي دي.


نړیوال بانک د 200 ملیون ډالرو مرستې تصویب کړې چې له مخې به یې د هیواد د اقتصاد د پرمخ وړلو ملاتړ وشي. د خوړو ملي پروګرام (**NFP**) د ټولو ولایتونو شاوخوا د لوږې او لوږې کمولو لپاره ډیزاین شوی و ، پداسې حال کې چې په لومړي نظر کې دا د پارلمان لخوا رد شوی. په بودیجه کې شاوخوا 18 ملیارد افغان تغیرات د پارلمان لخوا تصویب شوي.




د روان زیږدیز کال د زمری میاشتی تر پای پوری ټوله بودجه 449.41 میلیاردو افغانیو ته لوړه شوې چې 295.63 میلیارده افغانۍ یې عملیاتي او 153.78 میلیارده افغانۍ یې پرمختیایی ده. د روان زیږدیز کال پیل څخه تر اوسه د ارقامو له مخې ۲۱,۰۳میلیارده افغانی او یا ٪۴,۹۱ ډیرښت څرګندوي او د تیر کال د همدې تاریخ (د دزمری میاشتی پای پوری) په پرتله ۲۵,۰۱ میلیارده افغانۍ ډیرښت څـرګندوي.

هیوادونه کولای شي چې د مالي کال په جریان کې په بودجه کې تغیر راولي او دا تغیر کله د تمویلوونکو له لوري د غیرې اختیاري مصارفو له کبله او یا هم د مالیې وزارت له لوری په بودجه کې کوم تغیر د کال په منځ کې راشي چې دا تغیر باید د ولسي جرګې له لوري تصویب شي او د مالیې وزارت باید پوره اسناد او دلایل وړاندې کړي.

لاندې جدول د ۲۰۲۰ زیږدیز کال تازه ارقام څرګندوي چې د همدې کال تر زمری میاشتې پورې دي او کوم تغیر چې په کې دی د غیرې اختیاري مصارفو له کبله ده او د یادونې وړ ده چې تر اوسه د هېواد بودجه چې کوم تغیر باید په کې راشی د ولسي جرګې له لوري نه تصویب شوې ده.




د روان زیږدیز کال د زمری میاشتی تر پای پوری ټوله بودجه ۴۴۹,۴۱ میلیاردو افغانیو ته لوړه شوې چې ۲۹۵,۶۳ میلیارده افغانۍ یې عملیاتي او ۱۵۳,۷۸ میلیارده افغانۍ یې پرمختیایی ده. د روان زیږدیز کال پیل څخه تر اوسه د ارقامو له مخې۲۱,۰۳ اویا ٪۴,۹۱ ډیربنت څرګندوي او د تیر کال د همدې تاریخ (دزمری میاشتی پای پوری) په پرتله ۲۵,۰۱ میلیارده افغانۍ ډیربنت څرګندوي.

ټول عواید (کورني عواید او بهرنۍ مرستې) د 1399 لیږدیز مالی کال له پیل څخه تر زمری میاشتې پای پورې222.57 میلیارده افغانۍ ته رسیدلې ده، چې ده دي جملې څخه کورني عواید 103.41 میلیارده افغانۍ او بهرنیو مرستی 119.16 میلیارده افغانۍ ته رسیږي.

کورني عواید د زمری په میاشت کې لږ والی په نښه کوي، چې له 10.38میلیارده افغانیو څخه د د زمری په میاشت کې تر15.33 میلیارده افغانی د چنګاښ میاشت کی. دا بدلون د4.95میلیارده افغانۍ او یا د٪32.29 لږ والی څرګندوي.له بلیخوا د زمری په

میاشت کی په بهرنیو مرستو کی هم ډیرښت راغلی ده، چی ټوله بهرنۍ مرستې له 33.15میلیارده افغانۍ په زمری میاشت کې، همدارنگه25.88میلیارده افغانۍ د چنگاښ په میاشت که رسیدلی دی . چې د7.27میلیـــارده افغانۍ او یا د٪28.09زیاتوالی څرگندوي.

په ورته وخت کې، ټول لگښتونه د 1399 لیږدیز مالي کال تر زمری میاشتی پای پوری225.25 میلیارده افغانیو ته رسیدلی دي چې له دې جملې څخه،چاري لگښتونه162.28 میلیارده افغانۍ او پراختیایي لگښتونه62.98 میلیارده افغانیو ته رسیږي.

چاری لگښتونه د زمری په میاشت کی 18.95 میلیارده افغانی دی، چی د چنگاښ په میاشت کی25.26میلیار ده افغانی وی، دا بدلون د6.31میلیارد افغانی ٪24.98 لږ والی په نښه کوی. همدا رنگه پراختیایی لگښتونه د زمری په میاشت 8.52 میلیارده افغانی ته رسیدلی ده چی د چنگاښ په میاشت کی10.99 میلیارده افغانی وی چی د زمری میاشتی په پرتله 2.47 میلیارده افغانی او یا د 22.46٪ لږ والی څرگندوی.

| ځانگړنه | د چنگاښ میاشت او 1399 مالی کال | د زمری میاشت او 1399 مالی کال | د 1399 مالی کال له پیل څخه د زمری میاشتی پوری | توپیر ( د چنگاښ او زمری میاشتو کې) | میاشتني وده (٪) |
|---|---|---|---|---|---|
| | د افغانۍ شمیرنه په ملیاردونو | | | | |
| ټول عواید | ۴۱,۲۱ | 43.53 | 222.57 | 2.32 | 5.63٪ |
| کورنی عواید | ۱۵,۳۳ | 10.38 | 103.41 | (4.95) | -32.29٪ |
| بهرنی عواید | ۲۵,۸۸ | 33.15 | 119.16 | 7.27 | 28.09٪ |
| ټول لگښتونه | ۳٦,۲۵ | 27.47 | 225.25 | (8.78) | -24.21٪ |
| جاری لگښتونه | ۲۵,۲٦ | 18.95 | 162.28 | (6.31) | -24.98٪ |
| پراختیایي لگښتونه | ۱۰,۹۹ | 8.52 | 62.98 | (2.47) | -22.46٪ |

د اصلي بودجې د اجراء کول نرخ د 1399 لیږدیز  مالي کال تر چنګاښ میاشت پای پورې ٪48 ته رسیدلی ده او همدارنګه دتیری غبرګولی بودجی نرخ ٪43 وه  چی د غبرګولی میاشتی په پرتله  د اجراء په نرخ کی ٪5 زیاتوالی څرګندوی.

سرچینه: د مالیی وزارت/د پولی سیاست د آمریت محاسبه